# دافغانســـتان اســـلامي امارت
## د ارشـــاد،حج او اوقـــافو وزارت
### د ارشاد او مساجدو د انسجام رياست
### ارشاد اودعوت آمريت
### د خطبو د تنظيم عمومي مديريت

دجمعي د خطبې لاربښود مؤرخ: ۱۴۴۳/۴/۲۷هجری قمري مطابق۱۴۰۰/۹/۱۲هجری شمسي

# آسماني آفتونه او دهغو سببونه

الحمدلله رب العالمين الذي حذرالعباد من الذنوب والمعاصي وبين اضرارها ومفاسدها ليتجنبوها . وأرشدهم إلى الطاعات والعمل الصالح وبين فوائدها وثمراتها. نحمده على فضله وإحسانه ونشكره على توفيقه وامتنانه، وأشهد أن لآإله إلاالله وحده لاشريک له، وأشهد أن محمد عبده ورسوله البشير، النذير والسراج المنيرصلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم وسلم تسليما كثيرا أما بعد.

قال الله تعالى :{وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ}الشورى:(۳۰).

**ترجمه:** او هغه کوم مصيبت چې تاسو ته رسيږي ستاسو دلاسونو دکړني له امله درته رسيږي او (الله تعالی ) درته زيات ګناهونه درته ببښي.

وأخرج أحمد في مسنده عن أنس قال:( كُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّهُ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لَا تُمْطِرَ السَّمَاءُ وَلَا تُنْبِتَ الْأَرْضُ). وفي رواية البخاري:( مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَقِلَّ الْعِلْمُ وَيَظْهَرَ الْجَهْلُ وَيَظْهَرَ الزِّنَا وَتَكْثُرَ النِّسَاءُ وَيَقِلَّ الرِّجَالُ حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ الْوَاحِدُ).مسند أحمد – صحيح البخارى

**ترجمه:** مونږ به يو بل ته يادول چې بيشکه قيامت به ترهغې پورې قائم نشي، ترڅو پورې چې د آسمان څخه د باران وربښت بند شي او زمکه زرغونول بند کړي.

**آسماني آفتونه :**

آسماني آفتونه ډيرزيات او ډول ډول دي؛ لکه: ۱-خشکسالي او قحطي. ۲-د ډول ډول مرضونو خپريدل.۳-زلزلې. ۴- او نور آفتونه او مصيبتونه. چې دټولو آفتونو سبب، د زمکې په سر دګناهونو او معصيت ډير والی، دبندګانو ازميښت او طبيعي عوامل دي.

**د آسماني آفتونو اسباب او لاملونه:**

لکه مخکې مو چې وويل: دآسماني آفتونو عمده اسباب د زمکې په سر دګناهونو او معصيتونو زياتوالی دی چې ځيني يې په لاندې ډول دي:

۱-دفحشاؤ او ناوړه کړنو زياتيدل اوخپريدل:

لکه څرنګه چې الله تعالی د فحشاء او زناڅخه منع فرمايلې ده او زنا اوفحشاء يې حرام کړي دي او ددې کارونو عاملانو ته يې دنيوي او اخروي سزا ټاکلې ده، ددې څخه دې نتيجې ته رسيږو چې دا ګناهونه انسان ته ناوړه عواقب ور اړوي؛ لکه: دکورنۍ خواره او قيام له منځه وړي او صعب العلاج مرضونه هم له ځان سره لري چې د(ايډز) خطرناکه مرض يادونه کولای شوکوم چې د قرن طاعون ورته هم ويل کيږي. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:(لَمْ تَظْهَرْ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا إِلَّا فَشَا فِيهِمْ الطَّاعُونُ وَالْأَوْجَاعُ الَّتِي لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِي أَسْلَافِهِمْ الَّذِينَ مَضَوْا) سنن ابن ماجه (۱۲/ ۲۵)

**ترجمه:**په هيڅ قوم کې زنا او فحشاء په علني توګه نه خپريږي، مګر داچې په خلکو کې دطاعون او داسې مرضونه رامنځ ته کيږي چې ددوی په تيرو قومونو کې نه وي تيرشوي.

۲- دحرامو شیانو خوراک هم د مختلفو آفتونو لامل گرځي. مونږ او تاسو شاهدیو چې په دې ورځو او شپو کې دکرونا مرض په ټوله نړۍ کې خپور شوی دی. دتحقیقاتو په نتیجه کې داڅرګنده شوی ده چې دا مهلک مرض دحرامو او ناپاکو حیواناتو دخوړوپه نتیجه کې رامنځ ته شوی دی. همد اوجه ده چې قرآن کریم داسې امر کوي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُلُواْمِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُواْلِلّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ} البقره: (۱۷۲)

ترجمه:ای هغه کسانو چې ایمان مو راوړی دی ! وخورئ پاکیزه دهغه څه نه چې مونږ تاسو ته ده رزق لپاره درکړي دي او شکر وباسئ خاص الله تعالی لره که چیرې تاسو یوائځې د الله تعالی عبادت کونکي یاست.

قرآن کریم د آفتونو په اړه ځانګړی نظر لري او ښکاره او سودمنده لاره په ګوته کوي، دآفتونو او مصیبتونو اصلي عامل را په ګوته کوي او انسان د آفتونو په مقابل کې د توبې لوری ته ور ګرځوي.

قرآن کریم دګناه مرتکبین، دګناه جوړونکي، دګناه خپروونکي د ټولو اقتصادي، فرهنګي او طبیعي مشکلاتو اصلي عاملان معرفي کوي.

زلزلې، سیلابونه،تیز بادونه، آتش فشانونه ، خشکسالي، تندرونه ددنیا له قدیمو آفتونو له جملې څخه دی؛ چې اکثره وخت دانسان دبد عمل له لاسه رامنځ ته کیږي.

خو کله هم دا حوادث د طبیعت له امله هم رامنځ ته کیږي؛ مثلا: زلزلې پخوا هم وی او وروسته به هم وي. ځکه چې په هستۍ باندې د الله تعالی له خوا یوقانون حاکم دی؛ حتی د ددنیا له منځه تلل به هم د زلزلې له امله وي چې ددنیا په سر دعمر اختتام به د زلزلې په وسیله وي او دقیامت د راتللو لویه علامه هم زلزله ده.

مونږ په نړۍ کې د زلزلو دترخو واقعاتو شاهدان یو او دداسې حوادثو د رامنځ ته کیدو پروخت انسان ورڅخه متأثره کیږي، څوک د کومک رسولو په لټه کې کیږي، ځینې بیا دداسې واقعاتو داسبابو په لمنځه وړلوکې وي او ځینې بیا دلوړو ماڼیو دجوړولو په مخنیوي کې مصروف شي.

بدیهي ده څوک چې په الله تعالی عقیده لري هغه پوهیږي چې الله تعالی خوښې او قهر دواړه لري او دواړه په هر ډول چې وغواړي ښکاره کوی یې. دهغه د قهر او رضا دبندګانو عمل پوری تړلي دي.

**خشکسالي او قحطي:**

که چیرې وغواړو چې د آفتونو په سببونو او عواملو باندې پوهه شو، پرته له دې چې آفتونه طبیعي اسباب لري قرآن کریم او نبوي آحادیث مونږ ته دآسماني آفتونو او مصیبتونو حقیقي عوامل را په ګوته کوي.

الله تعالی فرمایلي دي: { فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُون} الروم:(۹)

**ترجمه :** پس نه دی الله تعالی چې په دوی ظلم وکړي؛ بلکې دوی په خپلو نفسونو ظلم کوي.

الله تعالی په یوبل آیت کې فرمایلي دی:{وَلَقَدْ أَخَذْنَا آلَ فِرْعَونَ بِالسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّن الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ} الاعراف:(۱۳۰)

**ترجمه:** او بیشکه مونږ نیولي ؤ آل د فرعون په خشکسالۍ او دمیوو په کموالي سره ددې لپاره چې دوی پند واخلي.

د خشکسالی او باران نه وربنت لوی عامل ګناه او معصیت دی؛ چې دالله تعالی د رحمت دقطع کیدو لامل ګرځي.

په یو حدیث شریف کې راځي:عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: أَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ الْمُهَاجِرِينَ خَمْسٌ إِذَا ابْتُلِيتُمْ بِهِنَّ وَأَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ تُدْرِكُوهُنَّ لَمْ تَظْهَرْ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الطَّاعُونُ وَالْأَوْجَاعُ الَّتِي لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِي أَسْلَافِهِمُ الَّذِينَ مَضَوْا وَلَمْ يَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلَّا أُخِذُوا بِالسِّنِينَ وَشِدَّةِ الْمَئُونَةِ وَجَوْرِ السُّلْطَانِ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يَمْنَعُوا زَكَاةَ أَمْوَالِهِمْ إِلَّا مُنِعُوا الْقَطْرَ مِنَ السَّمَاءِ وَلَوْلَا الْبَهَائِمُ لَمْ يُمْطَرُوا وَلَمْ يَنْقُضُوا عَهْدَ اللَّهِ وَعَهْدَ رَسُولِهِ إِلَّا سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ غَيْرِهِمْ فَأَخَذُوا بَعْضَ مَا فِي أَيْدِيهِمْ وَمَا لَمْ تَحْكُمْ أَئِمَّتُهُمْ بِكِتَابِ اللَّهِ وَيَتَخَيَّرُوا مِمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَّا جَعَلَ اللَّهُ بَأْسَهُمْ بَيْنَهُمْ. سنن ابن ماجه (۱۲/ ۲۵)

**ترجمه:**عبدالله ابن عمررضي الله عنهما فرمايلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته راغی او وه يې فرمايل: ای دمهاجرينو ډلې! پنځه خصلتونه دي که چيرې وربانديې اخته شوی-په الله تعالی پناه غواړم دا چې تاسو ته ورسيږي- (دغه راتلونکي عذابونه به درته ورسيږي). په هيڅ قوم کې زنا نه خپريږي داسې چې په کې عامه شي؛ مگر داچې خپور به شی په کې طاعون اونورداسې مرضونه چې ددوی په تيرو قومونو کې به نه وي تيرشوي. او دوی به په پيمانه او ترازو کې کمی نه کوي؛ مگر داچې خشکسالي، سختي او دپاچا ظلم به وربانديې مسلط شي. او دمال د زکات له ورکولو څخه به ډډه نه کوي؛ مگردا چې له آسمان څخه به باران وربانديې بندشي. که چيرې حيوانات نه واي په دوی به باران نه ؤ شوی.هرقوم چې دالله تعالی عهد او پيمان مات کړي؛ الله تعالی به وربانديې دښمن مسلط کړي اوهغه څه به ورڅخه واخلي چې ددوی په لاس کې دي.او که چيرې حاکمان د الله تعالی په کتاب فيصله ونه کړي، الله تعالی به دوی په خپلو منځو کې اخته کړي.

په پورتني حديث کې پنځه ډوله گناهونه ذکرشوي دي اود هرې گناه په مقابل کې يو عذاب ذکرشوی دی، چې ددغه گناهونو په کتارکې د زکات نه ورکول او په ترازو کې نقص دی چې دخشکسالي اوقحط باعث گرځي.

په يو بل روايت کې راځي:(عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ مَا ظَهَرَ الْغُلُولُ فِي قَوْمٍ قَطُّ إِلَّا أُلْقِيَ فِي قُلُوبِهِمْ الرُّعْبُ وَلَا فَشَا الزِّنَا فِي قَوْمٍ قَطُّ إِلَّا كَثُرَ فِيهِمُ الْمَوْتُ وَلَا نَقَصَ قَوْمٌ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلَّا قُطِعَ عَنْهُمُ الرِّزْقُ وَلَا حَكَمَ قَوْمٌ بِغَيْرِ الْحَقِّ إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الدَّمُ وَلَا خَتَرَ قَوْمٌ بِالْعَهْدِ إِلَّا سُلِّطَ عَلَيْهِمُ الْعَدُوُّ).موطأ امام مالک

**ترجمه:**عبدالله ابن عباس فرمايلي دي: هيڅکله په يوقوم کې خيانت نه ښکاره کيږي؛ مگر داچې په زړونو کې به يې ويره واچول شي او په هيڅ قوم کې زنا نه خپريږي؛ مگر داچې مرگ به په کې زيات شي. او نه کموي يوقوم پيمانه او وزن؛ مگر رزق به ورڅخه قطع شي. او هيڅ قوم پرته له حق په بل څه فيصله نه کوي؛ مگر داچې وژل به په کې زيات شي. اوهيڅ قوم په خپله ژمنه کې خيانت نه کوي؛ مگر داچې دښمن به وربانديې مسلط شي.

و قال عطاء الخراساني: (إِذَا كَانَ خَمْسٌ كَانَ خَمْسٌ: إِذَا أُكِلَ الرِّبَا كَانَ الْخَسْفُ وَالزَّلْزَلَةُ، وَإِذَا جَارَ الْحُكَّامُ قَحَطَ الْمَطَرُ، وَإِذَا ظَهَرَ الزِّنَا كَثُرَ الْمَوْتُ، وَإِذَا مُنِعَتِ الزَّكَاةُ هَلَكَتِ الْمَاشِيَةُ، وَإِذَا تُعُدِّيَ عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ كَانَتِ الدَّوْلَةُ دولة العدوّ) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (٥/ ١٩٩)

**ترجمه:** امام عطاء خراساني تابعي ويلی دي: د پنځوگناهونو لپاره پنځه ډوله عذابونه دي: کله چې سود وخوړل شي، د ځمکو کيناستل او زلزلي رامنځ ته کيږي. کله چې حاکمان ظلم وکړي، باران بنديږي. کله چې زنا سرعام شي، مرگ زياتيږي. او کله چې د زکات ورکول منع شي، څاروي مړه کيږي.کله چې په اهل ذمه بانديې تيری وشي، دولت بيا ددښمن په لاس کې پريوځي.

په خلاصه توگه بايد ووايو چې د ټولو آسماني آفتونو اسباب په لانديې ډول دي:

**۱- دگناهونو ارتکاب او خپريدل:-** په قرآن کريم کې د تيرو قومونو سرگذشت يادونه او په آحاديثو کې ددقيق نظر څخه وروسته مونږ ته دا نکته په ډاگه کيږي؛ چې دټولو ترخو او بدو حوادثو او واقعتونو حقيقي او اساسي علت چې بشريت ته ورپيښيږي په واقعيت کې د بشر خپل اعمال اوکړني دي.

قرآن کريم په متعددو آياتونو کې د خلکو بد اعمال او گناهونه مستقيما دآفتونو اوعذاب عوامل په گوته کړي دي. او دا يو اساسي اصل دی په قران کريم کې چې ټول مسلمانان څه ناڅه ددی اصل څخه اگاه دي اوپوهيږي چې که چيرې ټولنه په گناه اوفساد لتاړه شي خپل ځانونه دالهي عذابونو او انتقامونو په خطر کېويني څخه. لکه چې الله تعالی فرمايې:{أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَى أَن يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا بَيَاتاً وَهُمْ نَآئِمُونَ }الاعراف:(۹۷-۱۰۰)

**ترجمه:** آيا ددې کلي خلک ددې څخه په امن کې دي چې رابه شي ورته زمونږعذاب دشپې په داسې حال کې چې دوی به ويده وي.
پيغمبرعليه السلام فرمايلي دي:(إذا ظهرت الفاحشةُ كانت الرجفةُ). جامع الأحاديث للسيوطی(۳/ ۳۵۳)
ترجمه: کله چې زنا عامه شي، بيا زلزله رامنځ ته کيږي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا اتُّخِذَ الفَيْءُ دُوَلًا، وَالأَمَانَةُ مَغْنَمًا، وَالزَّكَاةُ مَغْرَمًا، وَتُعُلِّمَ لِغَيْرِ الدِّينِ، وَأَطَاعَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ، وَعَقَّ أُمَّهُ، وَأَدْنَى صَدِيقَهُ، وَأَقْصَى أَبَاهُ، وَظَهَرَتِ الأَصْوَاتُ فِي المَسَاجِدِ، وَسَادَ القَبِيلَةَ فَاسِقُهُمْ، وَكَانَ زَعِيمُ القَوْمِ أَرْذَلَهُمْ، وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ، وَظَهَرَتِ القَيْنَاتُ وَالمَعَازِفُ، وَشُرِبَتِ الخُمُورُ، وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الأُمَّةِ أَوَّلَهَا، فَلْيَرْتَقِبُوا عِنْدَ ذَلِكَ رِيحًا حَمْرَاءَ، وَزَلْزَلَةً وَخَسْفًا وَمَسْخًا وَقَذْفًا وَآيَاتٍ تَتَابَعُ كَنِظَامٍ بَالٍ قُطِعَ سِلْكُهُ فَتَتَابَعَ» سنن الترمذي ت شاكر (۴/ ۴۹۵)

ترجمه: کله چې دغنیمت مال سرمایه وګرځیدله، او امانت غنیمت وشمارل شو، او زکات تاوان وګڼل شو، او زده کړه ددنیا لپاره ترسره کیده او سړي دښځې تابعداري کوله او دمورنافرماني یې کوله اوملګری یې ځان ته نږدې کړ او پلاریې له ځانه لرې کړ،او اوچت شول به مسجدونو کې آوازونه ددنیا اودقبیلې مشري فاسق کوله او دقوم مشر رذیل کس ؤ او دانسان عزت دهغه دشر له امله کیده ، نڅاګرې او سندرغاړې ښځې، ډول اوسرنا سرعام شو او شراب وڅښل شو اوددې امت آخیرنو خلکو پخوانو پسې بد ویل شروع کړل؛ نو انتظار دې اوباسي په دغه وخت کې د ګرمې هوا او د زلزلې اود زمکې دکیناستلو او چهرو دمسخه کیدلو او دآسمان څخه د تیږو د وریدو او نور دقیامت دعلامو چې یو په بل پسې به راروانې وي په شان دهغه هارچې تارېې قطع شی اوبیا دانې یو په بل بسې په تیزۍ سره لویږي.

**۲- ریاء:-** پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي: کله چې په انسان کې لس خویونه پیدا شو په لس ډوله عذابونو به مبتلا شي. (کله چې ریاء زیاته شي زلزلې به ډیرې شي)

**۳- سود خوړل:-** پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي:" إذا ظهر الزنا والربا في قرية فقد أحلوا بأنفسهم عذاب الله " شعب الإيمان (۷/ ۳۷۰)

ترجمه: کله چې زنا او سود په کوم قوم کې عام شو، بیشکه لازم کړ دوی په خپلو ځانونو دالله تعالی عذاب.

**۴- په معاملاتو کې دخلکو حقوق کم ورکول .**

دهغه اسبابو له جملې څخه چې دآسماني آفتونولامل ګرځي دخلکو حقوق خوړل دي ؛ لکه څرنګه چې شعیب علیه السلام خپل قوم ته دېتولو مصیبتونو اوآسماني آفتونو په اړه وویل: ستاسو په پیمانه او تله کې کموالی ستاسو دهلاکت سبب دی:{وَيَا قَوْمِ أَوْفُواْ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلاَ تَبْخَسُواْ النَّاسَ أَشْيَاءهُمْ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ} هود:(۸۵).

**ترجمه:**ای زما قومه! پوره ورکړئ پیمانه او وزن او مه کموئ له خلکو څخه دهغوی شیان او مه ګرځئ په زمکه کې فساد کونکي.

**د آسماني آفتونو څخه دخلاصون لاره.**

قرآن کریم د آسماني آفتونو څخه دخلاصون لپاره زیاتې لارې په ګوته کړي دي چې مهم یې په لاندې ډول دي:

- ❖ په خپله ګناه اعتراف کول او له ګناه څخه توبه ویستل او خپل پروردګار ته رجوع کول.
- ❖ تقوا غوره کول یعنې دهغه ګاهونو څخه ځان ژغورل چې دټولنې اکثره افراد په کې غرق دي .

قرآن کریم په ډیرو ځایونو کې تقوا دنجات لاره په ګوته کړې ده.الله تعالی فرمایلي د:{ وَأَنجَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ}النمل:(۵۳)

ترجمه :او نجات مو ورکړ هغه کسانو ته چې ایمان یې راوړی ؤاو ځان یې وساتلو له ګناه څخه.

- ❖ امر بالمعروف او نهی له منکر څخه چې په قرآن کریم کې په دې زیات تأکید شوی دی.:{ فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِ أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُواْ يَفْسُقُونَ}الاعراف:(۱۶۵)
- ❖ په اخلاص سره الله تعالی ته دعاء او زاري کول. لکه دیونس علیه السلام په شان په اخلاص سره دعاء کول.
- ❖ د استسقاء لمونځ کول. سنت طریقه داده چې داستسقاء لمونځ اداشي او الله تعالی څخه دخپلو ګناهونو دبښلو غوښتنه وشي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلًا دَخَلَ الْمَسْجِدَ يَوْمَ جُمُعَةٍ مِنْ بَابٍ كَانَ نَحْوَ دَارِ الْقَضَاءِ وَرَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَائِمٌ يَخْطُبُ فَاسْتَقْبَلَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَائِمًا ثُمَّ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هَلَكَتِ الْأَمْوَالُ وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ فَادْعُ اللهَ يُغِيثُنَا (يُغِثْنَا) وفي رواية احمد: (يَا رَسُولَ اللَّهِ، حُبِسَ الْمَطَرُ، هَلَكَتِ الْمَوَاشِي، ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَسْقِيَنَا) فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ أَغِثْنَا اللَّهُمَّ أَغِثْنَا اللَّهُمَّ أَغِثْنَا) البخاري(ص: ۵۷)،مسند أحمد(20/ 319)

**ومن الله التوفيق**